# د چین د انقلاب مسایل

د مروجینو لپاره تزسونه، د شوروي اتحاد کمونیست ګوند مصوبه



ج. و. ستالین

ژباړه: آزاد

# د چين د انقلاب مسايل

## د مروجينو لپاره تزسونه، د شوروي اتحاد کمونيست گوند مصوبه

ج. و. ستالين

ژباړه: آزاد

Communist Organization of Afghanistan

سازمان کمونیست افغانستان

د افغانستان کمونیست سازمان

COA

## کتاب پیژندنه

د کتاب سرلیک:

**د چین د انقلاب مسایل**

لیکوال:

**ج.و. ستالین**

ژباړن:

**آزاد**

د ژباړې او ټایپ کتنه او سمونه:

**د افغانستان کمونیست سازمان سیاسي بیرو**

خپرندوی ارگان

**سور ستوری خپرندویه ټولنه**

په دې اثر کې د چین تر لوی انقلاب ۲۲ کلونه وړاندې، د چین د انقلاب د شرایطو او تګلورې اړوند ځینې عمومي مسایلو ته اشاره شوې، چې د تاریخي پېښو بهیر یې د وړاندوینو کره والی هم ثابت کړ. ستالین په دې اثر کې د عیني او نړیوالو شرایطو د توپیر په سبب، د چین او روسیې د انقلابونو متفاوتو شرایطو او د انقلابي بدلونونو د چټکتیا مساعدوالی تحلیل کړی او هغه کینې اړخي افراطیان یې چې د ټولو هیوادونو انقلابي شرایط ورته ګڼي او یو ډول چوکاټونو ته یې اچوي؛ تر انتقاد لاندې راوستلي وه. د دې اثر تیوریکي او تاریخي ارزښت، په مشخصو ټولنیزو شرایطو کې د انقلابي ځواکونو له لوري، د انقلاب د نقشې ایستنې او په انقلابي شرایطو کې د سیاسي او ټولنیزو قواوو د توازن ساتنې د تحلیل په څرنګوالي کې دی. د ا.ک.س پښتو ژبې ته د همدې اثر د ژباړې او بیاخپرولو ویاړ لري، تر څو د هیواد او سیمې انقلابي ځواکونه د خپلو مشخصو ټولنیزو شرایطو د دقیقې جاج اخیستنې د میتود او د هماغه دقیق جاج پر بنسټ، د دقیقې انقلابي نقشې ایستنې د وړتیاوو زیاتولو په برخه کې ترې ګټه واخیستلای شي.

# لړلیک

۱ - د چین د انقلاب لیدلوری

۲ - د چین انقلاب لومړی پړاو

۳ - د چین انقلاب دوهم پړاو

۴ - د اپوزیسیون تېروتني

## د چین د انقلاب مسایل

## د مروجینو لپاره تزسونه، د شوروي اتحاد کمونیست گوند مصوبه

### ۱ - د چین د انقلاب لیدلوری

هغه مهم لاملونه چې د انقلاب ځانگړنه ټاکي په لاندې ډول دي:

الف: د چین نیمه ترلی موقعیت، د امپریالیزم مالي او اقتصادي ولکه.
ب: د فیوډالي پاتي شونو جغ او اغېز چې د میلیټاریزم او بوروکراسۍ د جغ پوسیله لا نور هم ورته پوکی وهل کېږي.
ج: د فیوډالي بوروکراسۍ، میلیټاریزم او امپریالیزم پر وړاندې د میلیوني پرگنېزو کارگرانو او بزگرانو د انقلابي مبارزې وده.
د: د ملي پانگوالۍ سیاسي کمزورتیا، له امپریالیزم سره یې تړاو، د انقلابي غورځنگ د ودې څخه د هغوی وېره.
ه: د پرولتاریا ډېرېدونکی انقلابي فعالیت، د زیارکښې میلیوني پرگنې په منځ کې د پرولتاریا د شخصیتي نفوذ ډېرښت.
و: د چین په گاونډ کې د پرولتري دیکتاتورۍ شتون.
له دې ځایه په چین کې د پېښو د تگلورې د ودې دوه لارې لاسته راځي:

یا به ملي پانگوالي پرولتاریا وځپي، له امپریالیزم سره به جوړجاړی وکړي او د هغه سره په یووالي به د انقلاب پر وړاندې لښکر وباسي، تر څو له دې لاري څخه د پانگوالۍ واکمنولو پوسیله انقلاب ته د پای ټکی کېږدي او یا به پرولتاریا ملي پانگوالۍ له مخې لرې کړي، خپله هژموني به ټینگه کړي، ښاري او کلیوالي زیارکښه میلیوني پرگنې به د ځان په لور راکاږي، تر څو د ملي پانگوالۍ تشبثاتو سره سیالي وکړي، د بورژوا - ډموکراټیک انقلاب بریا په لاس راوړي او وروسته بیا په پړاوېزه توگه هغه د سوسیالیستي انقلاب په لور، د هغه له امله د راپیښېدونکو پېښوسره مل سازماندهي کړي.

یو له دې دوو لارو څخه.

نړیوال پانگوال کړکېچ او په شوروي اتحاد کې دپرولتري دیکتاتورۍ شتون، چې تجربې یې کولای شي د چین پرولتاریاو پوسیله په بري سره وکارول شي، شونې ده تر څو د چین انقلاب دویمه لار ووهي، په کراتو مراتو به هوسا وي.

له بلی خوا، دا واقعیت چې امپریالیزم په یوه جبهه کې د چین انقلاب په ضد عمل کوي، یاني دا واقعیت چې نن د امپریالیستانو تر منځ هغه درز او هغه جگړه لکه د اکتوبر انقلاب څخه وړاندې چي امپریالیستي

پنډغالي کې شتون درلود او امپریالیزم یې کمزوری کاوه؛ شتون نه لري. دا واقعیت د دې څرګندوونکی دی چې د چین انقلاب په تر بري پوري له ډېرو ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان شي، نسبت هغه ته چې د روسیې انقلاب ورسره مخ و او همدارنګه د دې انقلاب په بهیر کې به د شوروي اتحاد کور دننه شخړو په پرتله به د تسلیم او خیانت پېښې ډېرې وي.

له دې امله د انقلاب د دې دوو لارو تر منځ مبارزه د چین انقلاب یوه ځانګړنه ده. دې ځانګړنې ته په کتو سره د کمونیستانو اصلي دنده د بري په لور د چین انقلاب د دویمې لار غوره کول دي.

### ۲ - د چین انقلاب لومړنی پړاو

د چین انقلاب د لومړي پړاو په اوږدو کې او د شمال په لور د لښکر ایستنې لومړي پړاو کې کله چې ملي پوځ د یانګ تسه سیند ته نږدې کېده او پرلپسې یې بریالیتوب تر لاسه کاوه، تر دې دمه لا د کارګرانو او بزګرانو کوم ځواکمن غورځنګ نه ؤ پراخ شوی، ملي پانګوالۍ (نه کمپرادوران) له انقلاب سره مل وه. دا د ټولې ملي متحدې جبهې انقلاب ؤ.

دا په دې مانا نه ده چې د انقلاب او ملي پانګوالۍ تر منځ تضادونه نه ول، یوازې دا مانا لري چې ملي پانګوالۍ هڅه کوله چې د خپلو موخو لاسته راوړلو لپاره له انقلاب نه ګټه پورته کړي او په همدې موخه یې انقلاب د سیمو لاندې کولو لور ته متوجه کاوه، تر څو له دې لارې د هغوی ځواک کم کړي. د۱۹۲٦م کال مارچ میاشت کې د چانکایشک لخوا له ګومیندان څخه د کمونیستانو شړلو لومړی هڅه د ملي پانګوالۍ لخوا د انقلاب مهارولو لومړنۍ جدي هڅه شمېرل کېږي. لکه څنګه چې ټول پوهېږي د شوروي اتحاد کمونیست ګوند (بلشویک) مرکزي کمېټه هماغه ورځو کې په دې فکر وه چې ګومیندان کې د کمونیست ګوند د پاتې کېدو لاره وساتل شي او ښې لاسي له ګومیندان څخه وایستل شي.

دا وه د انقلاب د پرمختللو بله لار یانې د ګومیندان او ملي حکومت دننه د کمونیستانو او کیڼ اړخو تر منځ مرسته، دګومیندان د یووالي ټینګښت او په هغه کې د ښي اړخو رسواء کول، بېلول او د ګومیندان تر کلک انضباط لاندې د ښې لاسو راوستل، له ښي لاسو ګټه پورته کول، د هغو له اړیکو او له تجربو څخه استفاده کول او له ګومیندان څخه د هغو عناصرو شړل چې دا انضباط تر پښو لاندې کوي او د انقلاب له غوښتنو سره خیانت وکړي.

وروستیو پېښو د دې لارې بشپړ صحت تائید کړ. د بزگرانو د ستر غورځنگ ودې او په کلیو کې د بزگري کمېټو او اتحادیو رامنځته کېدل، ښارونو کې د سترو لاریونونو څپې او سندیکایې شوراگانو جوړېښت، د شانگهای په لور چې د امپریالیستي ځواکونو تر ولکې لاندې ؤ؛ د ملي پوځ پراختیا او ټولې دې ته ورته پېښې، د دې گواه دي چې دا ترسره شوې لار یوازینۍ سمه او په ځای لار وه.

یوزای د یادو شرایطو په مرسته کولای شو دا پېښه توضیح او روښانه کړو چې په ۱۹۲۷م کې دښې لاسو لخوا د گومنیدان وېشلو او په نان شان کې د اوحان انقلابي گومیندان دفاع په وړاندې د نوي مرکز جوړولو هڅه له ماتې سره مخ شوه، خو دا هڅه د دې ښودونکې وه چې د هېواد په طبقاتي ځواکونو کې دلیك/صف جوړوني بدلون د غوړېدو په حال کې ؤ، ښي لاسي او ملي پانگوالۍ به ارام کېنه ني او د انقلاب په ضد به خپلې کړني لادېرې کړي. نوپه دې اساس د شوروي کمونیست گوند (بلشویك) مرکزي کمېټه په حقه وه چې د ۱۹۲۷م کال مارچ میاشت کې داسې یادونه کړې وه:

الف - دم گړی د چین انقلاب د طبقاتي ځواکونو د ډلبندۍ بدلون او د امپریالیستي پوځونو تمرکز ته په کتو سره یو حساس پړاو وهي او ډېرې

لاسته راوړني یوازې په یو صورت کې شوني دي چې د پرگنېز غورځنگ د پراخوالي په لور غوځ عمل ترسره شي.

ب - باید د کارگرانو او بزگرانو وسله وال کول، د بزگري کمېټو بدلول په بالفعل ځواکمنو ارگانونو چې له ځانه د دفاع وسله وال ځواك باندې سمبال وي، موخه وگرځول شي.

ج - کمونیست گوند باید د گومیندان د ښې اړخه عناصرو د خاین او ارتجاعي سیاست په وړاندې سکوت غوره نه کړي، بلکې د هغوی د رسواء کولو لپاره د گومیندان شاوخوا پرگنې او د چین کمونیست گوند سره راټول او چمتو کړي.

نو کولای شو په ډېر هوسا توگه ومومو چې ولي د انقلاب راتلونکی بهیر کې د انقلاب ځواکمنه څپه له یو لوري او په شانگهای د امپریالیستانو فشار له بل لوري د چین ملي پانگوالي دې ته اړ باسي چې د انقلاب ضد لوری غوره کړي او همدارنگه دا چې ولي د ملي پوځ پوسیله د شانگهای نیول او د شانگهای کارگرانو لاریون امپریالیستان د انقلاب د ځپلو لپاره سره یو کړي.

همداسي ترسره هم شول. له دې اړخه په چین کې د نانکن د وینو حمام د مبارزو ځواکونو د تجزیې نښه ده. په توب باندي د نانکن ترلو او د ضرب العجل اعلانولو سره امپریالیستانو غوښتل، وښایي چي پخپل لور د ملي پانګوالۍ د راکاړلو په لټه کې دي تر څو له هغو سره په ګډه د چین انقلاب په وړاندې مبارزه وکړي.

دچانکایشک په امر د کارګرانو لاریون باندې ډزي کول، کودتا کول د امپریالیستانو غوښتنې ته د هغه ځواب وو. په دې وسیله چانکایشک غوښتل امپریالیستانو ته وښایي چې نوموړی حاضر دی د ملي پانګوالۍ سره په ګډه د چین کارګرانو او زیارکښانو په وړاندې د امپریالیستانو سره جوړجاړی وکړي.

## ۳ - د چین انقلاب دویم پړاو

د چانکایشک کودتا، له انقلاب څخه د ملي پانګوالۍ د مخ اړولو، د ملي انقلاب په وړاندې دیو کانون او د چین انقلاب په وړاندې له امپریالیستانو سره د ګومیندان د ښي اړخو عناصرو د جوړجاړي په مانا ده.

د چانکایشک کودتا په دې مانا وه چې له دې وروسته به د چین په سهیل کې له دوو حکومتونو، له دوو پوځونو او بنسټونو سره سروکار ولرو. په اوحان کې د انقلاب له بنسټ سره او په نانکن کې د انقلاب ضد بنسټ سره.

د چانکایشک کودتا په دې مانا ده چې انقلاب د خپل تکامل دویم پړاو ته داخل شوی او دا چې د ملي متحدي جبهي انقلاب څرخ دکارگرانو او بزگرانو میلیوني پرگنیز انقلاب په خوا، د ارضي انقلاب په لور پیل شوی دی، هغه انقلاب چې د امپریالیزم، قبیله اي او فیوډالي ملاکانو نظام د میلیټارستانو او د چانکایشک انقلاب ضد ټولگې پر وړاندې به مبارزه لا نور هم زیاته او پراخه کړي.

یاني دا چې د انقلاب د دوو لارو تر منځ مبارزه، د انقلاب پالونکو او انقلاب انحلالوونکو تر منځ ورځ تر بلي شدت مومي او د انقلاب ټول اوسنی پړاو په بر کې نیسي.

یانې په اوحان کې انقلابي گومیندان چې د میلیټاریزم او امپریالیزم په وړاندې غوڅه مبارزه کوي چې عملاً به د پرولتاریا او بزگرانو په انقلابي - ډموکراټیک پرولتري ارگان واوړي، په داسي حال کې چې د چانکایشک انقلاب ضد ټولگی چې له کارگرانو او بزگرانو لیري کېږي

او امپرياليزم ته مخ اړوي؛ په پای کې به د ميليټاريستانو له برخليك سره مخ شي.

خو له دې امر نه پايله ترلاسه کېږي چې د گوميندان د ساتنې او يووالي سياست، گوميندان دننه د ښي اړخو منفرد کول او د انقلاب په گټه د هغو څخه استفاده کول د انقلاب د نويو دندو ځواب ويوونکی نه دی. ياد سياست بايد له گوميندان څخه د ښي اړخو د شړلو په سياست واوړي. په بل عبارت د ښي اړخو په وړاندې آن تر دې چې په پشپړه توگه د هغو د سياسي ورکاوي د غوڅې مبارزې په سياست، د انقلابي گوميندان په لاس کې د ټول هېواد ځواک راغونډولو سياست، د ښي اړخه عناصرو پرته گوميندان، د کمونيستانو او کيڼ اړخه عناصرو تر منځ ايتلافي گوميندان.

بله پايله دا چې گوميندان دننه د کيڼ لاسو او کمونيستانو تر منځ د نږدې مرستې سياست اوسني پړاو کې د يو ځانگړي ارزښت او اغيز لرونکی دی او دا چې دا مرسته گوميندان نه بهر د کارگرانو او بزگرانو يووالي ته ښه ورکوي، هغه منعکسوي او د دې ډول مرستې پرته د انقلاب بريا ناشوني ده.

بله پایله دا چې د انقلابي ګومیندان د ځواکمنېدو ټاکونکی لامل د کارګرانو او بزګرانو د انقلابي غورځنګ پراختیا او دولسي سازمانونو ټینګښت دی - انقلابي بزګري کمېټې، کارګري سندیکاوي او ډېرې انقلابي ولسي سازمانونه چې د راتلونکو شوراګانو لومړني عناصر جوړوي - یاني د انقلاب د بریا ټاکونکی ضامن، د زیارکښانو میلیوني انقلابي پرګنې دي، خو د انقلاب ضد تر ټولو مهم زهر د کارګرانو او بزګرانو وسله وال کول دي.

بالاخره، دا چې کمونیست ګوند د ګومیندان له انقلابي ځواک سره په یوه جبهه کې مبارزه کوي، باید خپل استقلال په ډموکراټیک - بورژوا انقلاب کې د پرولتري هژموني د تامین اړین شرط تر عنوان لاندې مخکې له مخکې وساتي.

### ۴ – د اپوزیسیون تېروتنې

د اپوزیسیون (رادك او ملګرو) اصلي تېروتنه په دې کې ده چې دوی د چین انقلاب ځانګړنه نه پېژني، هغوی په دې نه یوهېږي چې دا انقلاب اوس کوم پړاو تېروي او هغوی اوسنی نړیوال وضعیت چې دا انقلاب پکې روان دی، نه پېژني.

اپوزيسيون تمه لري چې د چين انقلاب د اکتوبر انقلاب په څېر په چټکۍ سره وده وکړي. اپوزيسيون له دې نه چې د شانګهای کارګرانو د امپرياليستانو او د هغوی نوکرانو په وړاندې په برخليك ټاکونکي شخړه لاس نه دی پوري کړی، خفه دي، خو هغوی دانه درك کوي چې چين انقلاب په دې علت نشي کولای په چټکۍ سره وده وکړي چې شته نړيوال وضعيت د ۱۹۱۷م کال په پرتله لږ مساعد دی ( د امپرياليستانو تر منځ جګړه نشته).

هغوی نه درك کوي چې په ناوړه شرايطو کې کله چې زېرمه ځواکونه لا تر اوسه چمتو شوي نه وي، په بايد ټاکونکي برخليك بايد لاس پوري نشي، هماغسي چې بلشويکانو د ۱۹۱۷ کال نه په اپريل او نه هم جون مياشت کې په برخليك ټاکونکي عمل لاس پوری نه کړ.

اپوزيسيون نه درك کوي چې که څوك په ناوړه شرايطو کې له ټاکونکي عمل نه لاس په سر نه شي (په داسي حال کې چې وکولای شي ترې دريغ وکړي) د انقلاب د دوښمنانوو کار آسانه کوي.

اپوزيسيون ژر تر ژره په چين کې د سرتېرو، بزګرانو او کارګرانو د استازو د شوراګانو غوښتونکی دی. خو اوس وخت کې د شوراګانو تشکيل يانې څه؟

لومړی، نشو کولای په خپل زړه هر وخت شوراوي تشکيل کړو. هغوی يوازي په ځانګړي اوج ته رسيدلي انقلابي پړاو کې تشکيلېږي.

دويم، شوراوي د ټوکو ويلو لپاره نه جوړېږي - هغه د واکمن ځواک پر وړاندې د مبارزې په وړاندې د واك نيولو په موخه د مبارز ارګان په توګه تشکيلېږي. لکه په ۱۹۰۵ او ۱۹۱۷ کلونو کې.

خو د شوراګانو تشکيل د فعاليت په حوزه کې مثلاً د اوحان حکومت تر اوسنيو شرايطو لاندې، څه مانا لري؟ دا په دې سيمه کې دحاکم ځواک په وړاندې د مبارزې غږ راپورته کول د نويو ځواکمنو ارګانونو د تشکيل اعلانولو مانا لري، يانې د انقلابي ګوميندان دځواک په وړاندې د مبارزې شعار چې کمونيستانو هم د ګوميندان دکيڼ عناصرو سره ايتلاف تشکيل کړی؛ په هغه کې ګډون لري. ځکه په دې سيمه کې د انقلابي ګوميندان ځواک څخه پرته بل ځواک شتون نلري.

دا د کارګرانو - بزګرانو دپرګنېز سازمانونو او بزګري، سنديکايې، کارخونو کمېټې... چې اوس وخت کې انقلابي ګوميندان په هغو تکيه لري، د سازماني وضعيت د ټينګښت او تشکيل دندي سره د دولتي ځواک په نوي بڼي - شورايي سيسټم - باندي د انقلابي ګوميندان ځواک ځای ناستي کولو دندي ګډول دي.

نو دا د هغه پړاو د نه پېژندلو مانا لري چې اوس يې د چين انقلاب تېروي. دا د چين ولس د دوښمنانو ته د انقلاب پر وړاندې د مبارزې لپاره د نوي وسلې ورکولو مانا لري، د نويو اکاذبو د خپرولو لپاره چې گويا چين کې ملي انقلاب نه کېږي، بلکې مصنوعي پيوند - مسکو ته ورته شوراېي کول – يې ترسره کېږي.

په دې ترتيب د اپوزيسيون لخوا په اوسنيو شرايطو کې د شوارو د تشکيل شعار په وړاندې کولو سره د چين انقلاب د دوښمنانو ژرندې ته اوبه ورکول دي.

اپوزيسيون په دې آند دی چې گوميندان کې د کمونيست گوند گډون مناسب نه دی. نوپه دې اساس د اپوزيسيون ليدلوری له گوميندان څخه د کمونيست گوند څنگته کېدل په ځای عمل دی، خو په داسې حال کې چې د امپرياليستانو ټول باند او د دوی ملاتړي هم له گومنيدان څخه د کمونيستانو د شړلو غوښتونکي دي، نو له گوميندان څخه د کمونيستانو ليري کېدل څه مانا لري؟ داد ډگر خوشي کولو او د انقلاب دوښمنانو په گټه گوميندان کې د خپلو متحدينو يوازې خوشي کولو مانا لري. دا د کمونيست گوند د کمزوري کولو، د انقلابي گوميندان تس نس کولو، د شانگهای د کاونیاک چارو د اسانه کولو او دگوميندان

ښي اړخه عناصرو لاس ته د گومينډان بيرغ سپارلو مانا لري، ياني د چين د بيرغونو په منځ کې تر ټولو نوميالی بيرغ.

دا دقيقاً هغه څه دي چې امپرياليستان، ميليټاريستان او د گومينډان ښي اړخه عناصر يې اوس غوښتونکي دي.

په دې توگه وينو چې اپوزيسيون، چې په دې شرايطو کې له گومينډان څخه د کمونيست گوند څنگته کېدل مطرح کوي؛ د چين انقلاب د دوښمنانو په گټه کار کوي.

نوپه دې اساس کله چې زموږ د گوند مرکزي کمېټې پلينوم (چې يو څه موده وړاندې تشکيل شو) د اپوزيسيون پلاټفرم په غوڅه توگه رد کړ، په بشپړه توگه يې سم عمل کړی دی.[۱]

[۱] ۱۳-۱۹۲۷/۴/۱۶ کال د شوروي اتحاد کمونيست گوند د مرکزي کمېټې پلينوم